ډاکتر رحمت ربی ځیرک یار ۲۰۱۸/۱۱/۰۸

# پـلوراليزم + سيکـولـريزم = د اســلام پــرمـخـتـيـا
# د دستــورالـمـديـنـې په رنـا کې
(اومه برخه)

**د اسلام پيغامبـر او سيـکولر نظام په ۶۲۲م(اهجري) کې**

«دستورالمـدينه» د بېلا بېلوعـقيده والانو د ګډ سوله يـز ژوند لپاره نږدې ۱۴۰۰کالونه وړاندې په ۶۲۲زېيز کال کې مدينې ته د هجرت په مهال، د اسلام د پيغامبرمحمد(ص)پــه ابتکار او مفکوره رامينځته شوی و. په اوسنی ژبه دستــورالـمدينه اساسي قانون ګـڼلی شو. د بېلابېلو دينـوالانو او غيردينوالانو لپاره دستورالمدينه لومړی اساسي قانون و چې دينونه او سياست يې د وروری په ټغر کښېنولي او پوخلا کړي وو: يهـودان،عيسويان، مـسلمـانـان، اوغيـر دينـوالان!

د دستورالمدينه له برکته د انفرادي مسلمانـانو په ځای د هغوی ټولنه (جمعيت) رامينځـته شـو. د نوې ټـولنې د ټـولو ديني او غيرديني اړخونو په مينځ کې سوله او پـلوراليزم د مسلمانـانو اوغيرمسلمانانو په مينځ کې برلاسي شول، او د نوې سياسي او ديني ټولنې په مينځ کې کرکچونه او ګيلې په هوښياری او سوله يـيز شعـور حل شول.

د دستورالمدينې له مقرراتو او د هغوي له پلي کولو نه، د نن ورځې اورپکي مسلمانان زده کړه کولی شي چې په هر څه کې ملاتــاريات نيغ نيغ نکړي.

دستور المدينه مجموعي تړون و چې د بېلابېلوقـومي او عـقيدوي اړخونو د اړتيا او توافق له لاری رامينځته شوی و، نه د توري او زور له لارې. د دستورالمدينه د ېکون(محتوا) له مخې، ټـولو ديني او غيرديني قبيلوي ډلو مساوي محافظت، عزت او حقوق لرل! په دستورالمدينه کې ټول دينونه او قبيلې يو ملت («اُمه») ګڼل شوي وو. د ذکر شوي تړون په لومړی ماده کې په مشخص ډول راغلي دي چې د عقيده مندانو او قريش مسلمانانو او د دوی د پلويانو[د مديني دغېر ديني خلکو] په مينځ کې اړيکي به اداره کوي. د تړون په دوهمه ماده کې راغلي دي چې: «هغوی ټول[دينوالان او غيردينوالان] يوه اُمـه جوړوي.».

د نن ورځې په ژبه، مدينې ته کډوال شوي مسلمانان، د مديني يهودان او عيسويان، او د مـد ينې بې دينه خلک يو ملت جوړوي. د تړون په دريمه ماده کې راغلي دي چې د زندانيانو سره دې «لطف او عدالت» وشي.[ د زندانيانو سره د لطف او عدالت موضوع د اوسنی پيړی د بشر د حقوقوسره اړخ لګوي]. په ۴۲ماده کې راغلي دي چې: «که چېرې د دې سند د خلکو په مينځ کې کوم کرکېچ راولاړ شي، بايد الله او محّـمـد رسول الله ته دې وسپارل شي. الله هغه څه مني چې په دې سند کې تقوا او نــيکی ته خــورا نـږدې وي.»

«الـدستـورالمدينه» ته « صحيـفه المدينه»(د مديني کتابګوټی،خپرونه)، او«ميثاق المدينه» هـم ويل کيـږي. له دې داسي څرګندېږي چې دغه تړون يو ځانګړی(مشخص) سرليک نه درلود. ما چې کومه انګريزي نسخه لوستلې او دلته مې معرفي کړې ده، ۴۷ مادې لري او سرليک يې داسې دی:

“Al Dustur al-Madinah”

ما په دې ليکنه کې، په انګريزي ژبه کې هغه ۴۷ماديز«الدستور المدينه» وکاراوه چې د سعودي عربستان په رياض پوهنتون کې د مقايسوي حقوقو د پوهاند محّمد س. الاوا، له عربي متن نه په انګريزي ژبه کې په لاندې سرليک خپورشوی و:

Muhammad S. El-Awa, On the Political system of the Islamic State. Indiana Polis, Indaian: American Trust Publications, 1980,pp.15-20. English translation by Ahmed Naji al-Imam from the ArabicText of Fil Nizam al-Siyyasi lil Duwlatil Islamiyyah. Published in Arbic by Modern Egyptian Bureau, Cairo and Alexandria. First Edition 1975. Second Edition, 1978. The text quoted of “Al Dustur al-Madinah” here is from


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

“Majmu’at Al-Watha’iq-Siyasiyah li al-Ahad al-Nabawi wa al-Khilafat al-Rashida’’ by Dr. Muhammad Hamid Allah. Third Edition, Beirut, 1969, p. 28ff.

عموما اعتقاد/دين هغه مهال په اساسي قانون کې ځای لري چې په غټه کچه په ټولنه کې چلن ولري[د امریکې په استثنا]. د اساسي قانون وظیفه دا ده چې په ټولنه کې د نظام د عملیاتو لپاره معیارونه (نورمونه) رامینځته کړي. د دستورالمدینه لوستونکي (۱) د لومړیو مسلمانانو د فکر په اړه پوهېدلی شي او(۲) په دې هم پوهېدلی شي چې لومړیو مسلمانانو د غیر مسلمانانو په اړه څه فکرکاوه او څه ډول معامله یې ورسره کوله. د جروزالم/بیت المقدس پوهنتون پوهاند میکایل لېکر د خپلې ډاکترۍ په تېزېس (۱۹۸۳) کې کاږي چې په مدینه کې د «اساسي قانون [دستورالمدینه] اصطلاح بې مسما اسم و.»

Michael Lecker: “The term <constitution> is misnomer.”- Ph.D. thesis (1983):” On the Prophet Mohammad’s Activity in Medina”.

**لنډ جواب:** د اساسي قانون وظیفه دا ده چې د ټولنې لپاره داسې معیارونه(نورمونه) راوباسي چې نظام پرې چلېدلی شي. لکه چې وینو، په دستورالمدینه کې پلُورالیزم(څوډلتیا، څوګرایي) تمثیل شوی دی چې سولیزه همزیستي پکې چورلیز(محور) جوړوي. په بله وینا، دستورالمدینه په دیني پلورالیزم او په دیني آزادۍ راڅرخي، نه په اُورپکتیا (تعصب) او تنګنظری! په دغه تړون کې فردي حاکمیت په ټولنیز(مجموعي) حاکمیت پورې تړل شوی دی چې د ټولې ټولنې (مسلمان او غیر مسلمان) په هوساینه او خیر راڅرخي. له بېلابېلوعقیدو نه را مېنځته شوو نوو هېواد والانو، د نوي مجموعي نظام (دستورالمدینه) د پلي کولو لپاره د کډوال مکه وال محّمد(ص) عقل او مشرتوب ومانه! ځکه په دغه نوې عملي کېدونکي او نږدې ۱۴۰۰کالونه وړاندې د خپلې زمانې په پرمختللي نظام کې د نوې پلورالیستي ټولنې د غړو کټې خوندي شوې وې. د دستورالمدینې له لارې په حقوقو او مسولیتونو ولاړ څرګند نظام، په ټولنه کې د امنیت ټینګوالی، د مراجعې آخري-مرکزي مقام محّمد(ص)،اود واکمن او هېوادوالانو(اتباعو) په مینځ کې د راشې درشې سهولتونه رامینځته شوي وو. دستورالمدینې قانون ساز ګامونه واخیستل او په مناسب ډول یې د دغو عملیو انډول/عدالت تضمین کړ. دغه شان، دستورالمدینې د قبیلوي – میخانیکي شعور تورتم ته د ارت پلورالیستي او مساوات - طلب شعور ډیوه ولګوله.
پاس ذکر شوی دستورالمدینه ۴۷ مادې لري چې نږدې نیمایي برخه(۲۳مادې) یې په بین المسلمان اړیکو را چاپېر دي او پاتې ۲۴ مادې یې د غیر مسلمانانو سره د مسلمانانوپه اړیکو راڅرخي. د مدینې دولت لس کالونه چېدلی و(له ۶۲۲تر ۶۳۲زیږیزکال/دپیغامبردمړینې کال). د تړون(دستورالمدینه) د پېل په مهال یې نږدې لس زره(۱۰۰۰۰) هېواد والان(اتباع) لرل. هغه مهال په مدینه کې د ټول نفوس نږدې ٪۴۵(۴۵سلنې) غیرمسلمان عربان وو، ٪۴۰ یې یهودان وو، او پاتې پینځلس سلنې(٪۱۵) یې مسلمانان وو. ولولئ

Dr. M.A. Muqtedar Khan, The Compact of Medina: A Constitutioal Theory of the Islamic State,” ijtihad.org (May 30, 2001)[24 August 2017]. Zia Shah, “The Constitution of Medina: A Symbol of Pluralism in Islam,”(9 November 2012)[August 24, 2017]. Amina Rasul,”Democracy and the Madina Charter,”in: Business World(26 August 2016)/pressreader.com[24 August 2017].

ما په اینټرنیټ کې یو دستورالمدینه ولوست چې د مادو شمېر یې ۵۶ و. یعنې د اینټرنیټ نسخې د مادو شمېر، په کتاب کې د لومړي ذکر شوي دستورالمدینه له ۴۷ مادو نه نهه(۹) مادې زیات و. په اینټرنیټ نسخه کې، د کتاب د نسخې لومړۍ او دوهمه ماده یو ځای شوي دي. د کتاب ۹تر۱۰ مادې، د اینټرنیټ نسخې د ۶مادې سره اړخ لګوي. ماته داسې برېښي چې د دستورالمدینې په اصل تړون کې به د مادو شمیره نه وه کارول شوې(لکه ۶۰۰ کالونه وروسته په ۱۲۱۵م کې چې د انګریزانو په «غټ فرمان»/مګنا کارتا کې د مادو شمېره نه وه موجوده). دا چې په اینټرنیټي نسخه کې د مادو شمېر زیات دی، خود کتاب په نسخه کې یې شمېرلږ دی، زما اټکل دا دی چې په اینټر نیټ نسخه کې ځینې مادې وېشل شوي دي. جرمن انجیل پوه او ختیز پوه یُولیوس وېلهوزېن (۱۸۴۴تر۱۹۱۸ز) لومړی سړی و چې د دستورالمدینه متن یې په ۴۷ مادو کې وېشلی و. د کتاب په دستور المدینه کې دوه مادې(۲۳ماده او ۴۲ماده) د یوبل سره د موضوع له مخې ورته والی لري، خو ۴۲ ماده اوږده ده. وېلهَوزېن وایي چې د مدینې په اساسي قانون کې نیمګړتیاوې د دې دلیل دی چې دغه متن اصل دی(چا پکې ګوتې نه دي وهلې). وېلهوزېن د دستورالمدینې د اصالت لپاره یو بل دلیل هم وړاندې کوي: په دغه اساسي قانون کې «د قریشو په ضد احساسات» څرګندوي چې د دستورالمدینې په اصل «متن کې ورسته ګوتې نوې وهل شوې»، یعنې متن اصل دی. دغه شان «اِن.ویکیپیډیا.اُرګ» لیکي چې:«[د مدینې] د اساسي قانون اصل متن په مادو نه دی وېشل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شوی، او د مادو شمېر يې په بېلابېلو چينو کې بل شان وي. خو د دغه ډېرلوستل شوي منشور د اصالت په اړه عمومي توافق شته چې د ابن اسحاق په سيره رسول الله کې ميندل شوی دی.»

Julius Wellhauser “further argues that the anti-Quraysh sentiment in the Constitution would not have existed had the text been forged much latter.” Profesor Anver Emon, “Reflections on the <Costitution of Medina>: Essay on the Methodology in Islamic Legal History.” (anveremon.com) [30/9/2017].
En.wikipedia.org: “The division of the [Medina] Constitution into numbered articles is not in the original text and do the numbering of clauses differ in different sources, but there is general agreement on the authencity of the most widely-red version of the charters, which is found in Ibn Ishaq’s Sirah Rasul Allah.” [August 18, 2017].

جرمن ګيونتر شَلَــر په ۱۹۸۵زيېز کې، د جرمني په آوګسبورګ پوهنتون کې د ډاکترۍ تېزس په جرمني ژبه د «دستورالمدينه» په تحليل وليکه: «دستورالمدينه – د يوې سياسي الې معرفي. په اسلام کې د اوسنۍ بنسټګرۍ د بحث ليکنه. آوګسبورګ پوهنتون – جرمني ۱۹۸۵

Guenther Schaller (1985), Die “Gemeinde Ordnung vo Medina”-Darstellung eines poltischen Instruments . Ein Beitrag zur gegenwaertigen Fundamentalismus-Diskussion in Islam. Augsburg Universitaet Dissertation.

ډاکترشَلَــر په ۱۴۱-۱۴۲مخونو کې د دستورالمدينه په اصالت غږېدلی دی:«له بدې مرغې د دې سند د رامينځته کېدنې، لاسليک کونکو، اوږدوالي او دغسې نورو پيغام د خپرونو له لارې نه دی توضيح شوی.» يا د انجيل او ختيز پوهنې د جرمن عالم يوليوس وېلهـوزېـن(۱۸۸۴تر۱۹۱۸ )په وينا:«د ابن اسحاق ليکنه داسې برېښي چې له اسمان نه به راکښته شوې وي؛ د رامينځته کېدنې د عمليې په اړه يې ژوره چوپتيا په برخه ده.»

“Leider wird die Nachricht ueber diese Urkunde nicht durch Ausgaben ueber die Entshehung, Unterzeichner, Dauer und aehnliches mehr erlauetert.” PP 141-142

ډاکتر شَلَر په ۱۵۴تر۱۷۶مخونو کې دغـه سند خوندي کړی دی، او په ۲۱۳-۲۲۷مخونو کې يې «سيره ابن اسحاق» ته خپل پام راګرځولی دی[ابن اسحاق په ۱۵۱هجري/۷۶۸زيېز کې په حق رسېدلی و]. په ۴۷ مـادو کې د مدينې ترون ژباړه په ۱۴۸تر۱۵۳ مخونو کې خـونـدي شوې ده. په برلين کې د نــړۍ د دينونو مرکز په ۲۰۱۶م کې د دستورالمدينه په اړه «د مراکش اعـلاميــې» ته نوکې انتقادي ګوته نيـولې ده:

Ezw-erline.de (Evangelische Zentralstelle fuer Weltanschaungsfragen) Materialdienst 3/2016 : ”Erklaerung von Marrakesch von Medina: Muslime bekraeftigen die Charta von Medina”. [28/8/2017].

لاندې د شان ويليَم وايټ* په ليکنه کې هم ګټور معلومات لاسته راوړلی شو: هغه ليکي چې

*) Sean William White, Medina Charter of Prophet Muhammad and Pluralism (January 8, 2017) (Islamiccity.org). Sean William White had participated in an encyclopedia about Prophet of Islam: Muhammad in History, Thought, and Culture: An Encyclopedia of the Prophet of God. Vol. 1: A-M. Coeli Fitzpatrick and Adam Hani Walker, editors. ABC-CLIO. Santa Barbara, California 2014. French philosopher and historian Joseph Ernest Renan (1823-1892) is quoted in the introduction of this encyclopedia: Ernest Renan’s “assertion that Muhammad is the religious figure who was <born in the full light of history> was unproblematic.”

د دستورالمدينه اصل نشته، خو ډېره لوستل شوې نسخه يې د ابن اسحاق «سيره رسول الله» ده. د سپېڅلي قرآن په العلق سوره کې څلورم آيه «الذی عَلّمَ بلقلَمِ»: الله خلکوته «په قلم ښودنه کوي»(۴:۹۶). تاريخ که له يوې خوا د ديني، کلتوري، قبيلوي، اقتصادي، ملي، تبعيضي او تمدني ټکرونو سره اشنايي لري، نوله بلې خوا تاريخ خپل مقام په دې لوړساتلی دی چې د روغې-جوړې، خبرو او ډپلوماسۍ له لارې د جګړنو او خواشينو او زړه بدو خواو په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

مینځ کې سوله او روغه رامینځته کړي. دستور المدینه د تاریخ د دوهم اړخ (روغي-جوړې، اومفاهمي) په تِغر د پلوراليزم په شکل د اسلام د پېغامبرمحّمد (ص) په ابتکار په ۶۲۲م(۱هجري) کال کې رامینځته شوی و. په یثرب(مدینه)کې قومي جګړې د تېغ په زور حل کېدلې، نه د فکر او تفاهم په مټ. د پخوانی کاتولیک راهبې کرین ارمستړانګ په وینا، «قبیلې کوټلې مقام لاره، نه ربانیت».

Karen Armstrong, Muhammad: A Prophet for Our Time. New York: Harper Collin, 2006, pp 19 and 24.

الله خلکو ته په«قلم ښودنه کړې ده»(عَلّمَ بلقَلَم). قلم فکر او تفاهم تمثیلوي. یعنې دستور المدیني فکر او تفاهم ته ډېره لګولې وه، نه توری ته! د عقل، فکر، تفاهم او منطقي بحث له لارې په فکر کې بدلون راځي، نه د تعصب او اوریکتیا(جزمیت) له لارې!
ابوحمید محّمد الغزالي (۱۱۱۱-۱۰۵۸) اسلامي قاضي، الهیاتپوه، اوصوفي/عرفانپوه ویلي وو:«شک حقیقت مینډلی شي. څوک چې شک نـلري، فکر نشي کولی. څوک چې فکر نشي کولی، حقیقت نشي مینډلی.» دغه وینا د اسلام فلسفي تومنه او استدلال منعکسوي. خـو که د مـوضوع د حل لـپاره لار نـه وي، نو بیـا خو د یتکـین یـلـديريم پـه ويـنا، بايـد د اجتهـاد په لټه کې شـو. دستورالمدینه د محمد(ص) اجتهاد و، نه وحي!
دستورالمدینه نه یواځې د سند په وینا کې پلوراليزم(ګډولتیا/آیین کثرت)منعکسوي، بلکې د دغه سند په محتوا او تاریخ کې یې هم پلوراليزم پلی کړی و. دستورالمدینه لومړی ځل د پـلوراليزم او سوله ییزې همزیستۍ واقعي ډکون نړی ته وړاندې کړ: «امة واحدة »(بشریت واحد و»(۲:۲۱۳). هلته د مدیني د ټولو ولسونو او دینونو اشتراکیت رامینځته شوی و. یعني د دستورالمدینه د چترۍ لاندې، د مدیني ولسونو په مجموع کې په یو لوړ سوله ییز شعوري او دیني پړاو کې ژونـد کاوه.
دستورالمدینه نه یواځې پخوا اهمیت لاره، بلکې نن(په یوه ویشتمه پیړۍ کې) هم د یهودانو، مسلمانانو اوعیسویانو په مینځ کې د زده کړې وړ اهمیت لري. ځینو اوریکو مسلمانانو د اسلام په نوم له قرآن نه خپل توغ جوړ کړی دی او د خپلو تنګنظـریو او شومو شوقـونو لپاره یې استعمالوي. دینونه په مینه ولاړ وي، نه په نـفرت او تاوتریخوالي.
متقابله سترګه ورتـیا (بصارت) او ډیالوګ(خبرې آترې) د نـړۍ د ټولو دینـوالانـو او سیکولـرانو لپاره ګټور دي.
دستورالمدینه په سوله، مینه، آزادۍ، عقل او زغم(تحمل) راچاپیر و، نه په ځان چاودنو، وسلو او پیسو! په انسانانو د هغوی د اعمالو له امله قضاوت کېږي، نه د هغوی د عقـیدو له امله! استدلال او زغـم (تحمل) د سولې ستنې دي؛ کـکرۍ د مـغزو او عـقل د ساتـنـې ځای دی، نـه د سرچـاودني! **«الذی عـلّـم بـالـقلم» (هسـک څـښتن خلکو تـه په قـلـم ښودنـه کوي: العلق/۹۶:ایه ۴)، نـه پـه سر چاودنه!**
فرانسوي فیلسوف او تاریخپوه جوزیف اِرنیست رنان(۱۸۲۳تر۱۸۹۲) په ټینګار سره د اسلام پیغامبر محّمد(ص) هغه دیني شخصیت ګـڼلی و چې «د تاریخ په ټوله رڼـا کې زېږېدلی و.» یـعني د اسلام د پېغامبرتـول ژونـد څرګند و: په ۵۷۰ زېږیز کې زېږېدلی و؛ بریالی تاجر و؛ په ۶۱۰م کې پرې وحي راغله؛ په ۶۲۲م کې یې یثرب(مدیني) ته هجرت وکړ،۸ کالونه وروسته په ۶۳۰م کې په بریالـیتوب سره مکې ته راستـون شو او په ۶۳۲م کې یې له نـړۍ سترګې پټې کړې.
هسک څښتن په عدالت او صداقت ټینګار کړی دی. د سپیـڅلي قرآن په سوره النساء ،۱۳۵ آیت کې راغلي دي: «ای ایمان واله! د الله د شاهد په څېـر په عدالت کلک ودرېـږه، که څه هم ستا، ستا د مور او پـلار، ستا د قـوم، یا غنـي او بـېوزلي په ضد به وي. د زړه حرص ته مه ګوره، خو دا چې عادل نه وی. خو که خپله شاهدي/تـصدیق تحریف کړې، الله پـه هرڅه پـوهـېږي چې څه کـوې.»

په پخوانیو پېړیو کې لیکل(میرزاتوب) په شرق او غرب کې خورا لږ رواج لاره. چا به چې بل کسب نه لاره، منشي به شو. د محّمد(ص) په مهال په مکه کې شپږکاتبان وو، او یو تن کاتب (انس بن ملک)له یمن نه مکې ته تللی و چې ټول ۷ تنه وو. یعني لیکل د غریبانو کار و. پخپله د اسلام پـیغامبر هم نالوستی و. د دستورالمدینه متن دهـغه له فکر او وینا نه راوتـلی و، نه دهغه له قلم نه. ما ته یو دیني عالم او سیاستپوه(ډاکټر زمان ستانیزی) په یوه افغاني غونډه کې دا هـم وویل چې مدیـنـه د«جمهوریت» په معنا ده (۹ سپتمبر ۲۰۱۷). د مدیني لومړی نوم یثرب و. ځیني لویدیزوالان په یو او بل ډول نیوکه کوي چې د ابن اسحاق «سیره رسول الله» ناڅاپه له اسمان نه رالوېدلې وه. زه باید ځواب ورکړم!
ابـن اسحاق د دستورالـمدیني د رامینځـــته کېدلو لـــه کال (۶۲۲م) نه وروسته په ۱۵۱هجري/۷۶۸زیږیز کې مړ شوی و. یعني مدیني ته د محّمد (ص)د هجرت له کال(۶۲۲م) نه تقریبا ۱۴۵ کالونه وروسته په حق رسېدلی و. د اسلام پیغامبر په ۶۱کلنۍ له نړی لاړ،او ابن اسحاق په ۶۶ کلنۍ کې.
د عیسی(ع) د زېږېـدنې او وژنې د واقعي نېټېې معلومې شوې نه دي. ولولئ:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

New Catholic Encyclopedia; and Encyclopedia of Early Christianity

خو عیسویان د دسمبر ۲۵ د هغه د زېږېدني د نېټې په ځېر لمانځي. برتانوي دایرت المعارف لیکي چې ښایی د کلیسا مشرانو به دغه نېټه ټاکلې وه. امریکایي دایرت المعارف کاږي چې دغه نېټه به د بې دینه خلکو پام عیسویت ته را وګرځوي. د یهودانو دیني کتاب (تورات) وایي: څوک چې تورات بدلوي، هغه به غلط پېغامبر وي (دویتیرونومي ۱۳: ۱تر ۴). په نوي انجیل کې، عیسی(ع) د تورات سره ټکر لري او وایي چې د تورات امرونه نور د منلو وړ نه دي: (جان ۱:۴۵؛ ۹:۱۶)؛ (اَکټ ۳:۲۲ ؛ او ۷:۳۷). عیسوي عقیده چې باکره به ماشوم وزېږوي، د تورات له دې سورې نه راوتلې ده:(اَیزایا ۷:۱۴)- دلته «الما»تشریح کېږي چې په زېږولو راڅرخي. د «الما» لفظ تل د «پېغلې» معنا لرله. خو پېړۍ وروسته، عیسوي مولویانو دغه لفظ په «باکره» وژباړه. ولولئ

Encyclopedia Britannica; Encyclopedia Americana

رابه شم په امریکا کې د الهیاتو د یو وتلي(ممتاز) پوهاند بارت د. اِهرمَن تاریخي-انتقادي، دقیقي، متفکرانه او بې غرضه څېړنې ته:د عیسی[ع] مزاحمت. په انجیل کې پټ ټکرونه راسپړل(او ولې پرې موږ نه پوهېږو).

Prof. Bart D. Ehrman, Jesus Interrupted. Reading the hidden contradictions in the Bible (and why we don’t k now about them). Paperback (HarperOne,2010).

دا کتاب په لاندې برېښنا پاڼه کې هم لوستلی شئ:

usislam.org [14 September 2017].

اِهرمن په یو بل کتاب کې لیکي چې: د انجیل «له ۲۷ سیپارو/برخو نه لږ تر لږه ۱۱ یې جعلي وې.» د انجیل هغه سیپارې چې د عیسی(ع) «مریدانو/حواریونو ته منسوبې وې،ناشونې ده چې هغوی به لیکلې وي ځکه هغوی نالوستي/بې سواده وو.» ولولئ

Bart D. Ehrman, Forged: Writing in the Name of God-Why the Bible’s Authors Are Not Who We think They Are. Paperback Reprint Edition (HarperOne, March 2012).

د مقایسې او زیاتو ژورو معلوماتو لپاره ولولئ د پوهاند تامس ل. تامپسن اثار:

Thomas L. Thompson, The Messiah Myth: The Near Eastern Roots of Jesus and David. Basic Books, 2012; ibid., Biblical Narrative and Palestine’s History: Changing Perspective. Routledge, 2nd Ed. 2014; Thomas L. Thompson(Editor) and Thomas Verenna (Editor), Is This Not Carpenter? The Question of the History of the Figure of the Jesus; 1st Edition ( Routledge 2014)

پوهاند اِهرمَن لیکي چې:«په دې پوهیدل چې یو څه واقعا څه دي یا نه دي، یوله خورا مهمو روښانفکرو هڅو نه دی چې زموږ په ټولنه کې هرڅوک پسې ملاتړلی شي.» لیکوال «په خپله دیني عقیده باندې واقعاً برید» کړی دی: انجیل «د لویدیز تمدن په تاریخ کې خورا ډېر اخیستل شوی، په غټه کچه رانیول شوی او د زړه له کومې لوستل شوی کتاب دی.»
دا هم د بحث وړ ده چې «انجیل خورا دقیقاً بد تعبیر شوی دی، په ځانګړي ډول د عامي لوستونکو له خوا.» پوهاند اِهرمن غواړي چې دا مشکل حل کړي: «دا به زما هڅه وي چې پیشو له کڅوړې راوباسم.»[یعنې ډانګ پیېلې،څرګندې خبرې وکړي]!

«انجیل له تضادونو نه ډک دی، ډېر یې رغېدونکي نه دي. موسی[ع] پینتاتوک[د تورات لومړي ۵ فصلونه] نه وو لیکلي، او [د عیسی (ع) یارانو] مَتیو، مارک، لوک، او جان ګاسپیلس[انجیلی دُعاګانې] نه وې لیکلې. نورې سیپارې[فصلونه] شته چې په انجیل کې نه دي خوندي شوې....په تورات کې د موسی[ع] هجرت ښایي نه و شوی. د موعود هېواد فتح ښایی افسانه وه....پوهېدل مشکل دي چې آیا موسی[ع] کوم وخت موجود و، او تاریخي عیسی[ع] دقیقاً څه تدریس کړل. د تورات تاریخي قیصې په جعلیاتو ډکې دي؛ او په انجیل کې د اعمالو[اَکټس] سوره د پاول د ژوند او تدریس په اړه په تاریخي لحاظ بې اعتباره معلومات لري. د انجیل ډېرې سیپارې په پټ[مستعار] نوم لیکل شوې دي – د حوارینو په واسطه نه دي لیکل شوې. بلکې وروستنیو لیکوالانو لیکلې دي په دې ادعا چې حواریون وو.»
پوهاند اِهرمن زیاتوي چې «په تورات کې د خلقت لومړی بحث د خلقت د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د وهم بحث سره ډېر توپير لري....او په دواړو فصلونو کې د خدای نوم توپير لري.»

مارک لومړی ليکل شوې ارشاد[سوره] و. مارک پټ(ناشناس/مستعار)نوم و. د عالمانو د فکر له مخې، دغه ارشاد د عيسی(ع) له مړينې نږدې ۳۵ يا ۴۰ کالونه وروسته ، امکان لري ۶۵ يا ۷۰ کالونه وروسته خلق شوی و.

د عيسی(ع) ټولويارانو(حوارينو) د هغه د اعدام په اړه يوشان معلومات نلرل: جان وايي چې عيسی(ع) د فصح د تياری په ورځ د غرمې په مهال محکوم شوی و[کله چې يهودان له مصر نه د موسی (ع) په مشری په جمعي مهاجرت برياڼي شول، د خپلواکۍ جشن يې ونمانځه. دغه جشن ته فصح/«پَسئور» وايي. عيسی (ع) په تنکي عمر او د خپلې پيغامبری په مهال په فصح/جشن کې برخه اخيستلې وه. جان(۲:۱۳؛ ۶:۴؛ ۱۱:۵۵)]. خو د عيسی (ع) بل يار مارک وايي چې عيسی(ع) په ذکرشوې فَصح کې (چې جان ورته ګوته نيولې ده)، محکوم شوی نه و، بلکې ژوندی و او د فصح ډوډۍ يې خوړلې وه مخکې له دې چې ونيول شي،زندان ته وبوړل شي، هلته شپه تېره کړي، او بله ورځ د سهار په مهال (۹بجې) ووژل شي(مارک ۱۵:۴۲). دلته **تضاد** ليدل کېږي، **او هغه هم** د **عيسی**(ع) **د وژنې په اړه!**

دغه شان، په انجيل کې د عيسی(ع) د زوکړې(تولد) په اړه هم اختلافات شته. له ۱۹ پېړۍ راهيسې داسې فکر کېږي چې مارک لومړی حواري(يار)و چې وينا يې په ۶۵م ــ۷۰م ليکل شوې وه. د مَتيو او لوک دواړو ويناوې ۱۵-۲۰ کالونه وروسته درج شوې وې. د مارک په نظر، د عيسی(ع) مړينه مارک او لوک ته اهميت لري: د مارک لپاره د عيسی(ع) مړينه کفاره(جبران)و. خو د لوک لپاره د عيسی (ع) مړينه د خلکو لپاره د دې دليل دی چې هغوی په خپله ګناه وپوهېږي او له هسک څښتن نه عفوه وغواړي. د انجيل ټولې سيپارې(برخې) د نامعلومو اشخاصو په واسطه ليکل شوې وې، او هېڅ کوم ليکوال ادعا نه وه کړې چې شاهد و. عيسی(ع) او مريدان(ياران)يې په کليوال ګاليلې کې د ټيټې طبقې بزګران او ورځني مزدوران/کارګران وو. مَتيو ماليات ټولوونکی و، خو معلومه نه ده چې په ټيټه سويه که په جګه سويه. د حواري(يار) لوک (۴: ۱۶تر۲۰) له مخې عيسی(ع) لوستلی شول، خو ليکل يې معلوم نه دي. ولولئ

Prof. Bart D. Ehrman, Jesus Interrupted (2010)/usislam.org

پوهاند بارت د. اِهرمَن دينپوه دی، خو «اَګنوستيک» دی: يعنې د خدای د شتون يا نشتون سره له ژمنې نه ډډه کوي. په ساده وينا، هغه ادعا نه کوي چې خدای شته يا نشته.
نږدې ۳ کالونه وړاندې،د اسرائيلو لومړي وزير نتنياهو(۲۰۰۹م تر اوسه) د اوسني پاپ فرانسيس سره د عيسی(ع) د ژبې موضوع رامينځته کړه او د عيسی(ع) ژبه يې عبري وګڼله. خو پاپ ورغبرګه کړه چې عيسی(ع) په ارمائيک غږېدلو او په عبري پوهېدلو.
د خورا ډېرو انجيلپوهانو په نظر، عيسی(ع) په انجيل کې په ارمائيک غږېده.

Who, What, Why: What Language Would Jesus Have Spoken? (bbc.com; 27/05/2014) [26/09/2017].

کريستوفر هيچنس يو نامتو امريکايي روڼ آندی وايي: «بې ثبوته ادعا بې له ثبوته ردېدلی شي»؛ «د خپلواکو متفکرو مغزو جوهر په دې کې نه دی پروت چې څه فکر کوي، بلکې په دې کې چې څنګه/څه ډول فکر کوي.»
**نور بيا**

Dr. rer. pol. Rahmat Rabi Zirakyar, Califorina, USA
zirakyar1234@yahoo.com


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ